# خدائي خدمتګار تحریک

# په مختلفو وختونو کښې ﴿دویم قسط﴾

ظفرخان افغاني

د برصغیر د تحریک آزادۍ جنګ د شوو وختونو او واقعاتو ذکر او وضاحت کول ضروري دي چې د قامي تحریک نوي ځوانان د خدائي خدمتګارو تحریک د حالاتو او مبارزې نه خبر شي.

کال ۱۹۳۰ء د هندوستانیانو لپاره عام او د پښتونخوا اوسېدونکو لپاره خاص طور باندې د عزم همت د صبر او برداشت پېغام راوړے دے. د دې کال په ابتداء کښې انګریز استعمار په پښتنو باندې داسې ظلمونه وکړل چې د دنیا په تاریخ کښې ئې ډېر کم مثال په لاس راځي.

په کال ۱۹۳۰ د جنورۍ په میاشت کښې باچاخان د خدائي خدمتګار تحریک ابتداء کړې وه چې پکښې په ډېر لوئې او ګڼ شمېر باندې خلق شامل شوي وو. او ور ته را روان وو په ۱۹ او ۲۰ اپریل کال ۱۹۳۰ په اتمانزو کښې سالانه جلسه وشوه. په دې جلسه کښې په زرګونو خدائي خدمتګارو په سرو جامو کښې ګډون وکړو او شپې ته یوه ډېره لویه د پښتو مشاعره وشوه او له ټولې پښتونخوا نه راغلو شاعرانو انقلابي نظمونه پېش کړل چې په کښې د مرغز کلي یو مشهور او انقلابي شاعر ګل احمد ته اولنے انعام ورکړل شو..

او په دویمه ورځ خدائي خدمتګارو یو مثالي فوځي پرېډ وکړو باچاخان چې کله دا پرېډ ولیدو نو اعلان ئې وکړو چې له ډېر وخت نه پس نن زما ارمان پوره شو چې نن ما خدائي خدمتګار ځوانان په کوم شان او جذبه ولیدل په دې عظیمه

غـونډه او اجتـمـاع کښې د عبـدالاکبر خان ليکل شـوې ډرامـه هم په ستيج وړاندې کړل شوه. ډېرو خلقو سياسي تقريرونه هم وکړل.

د بـاچاخان تقرير ډېر تيز او پرجوشه ؤ. دۀ تـقـريـر کښې د نـورو خبـرو نـه علاوه د صوبـه پښتـونـخـوا انګـريـز چيف کـمشـنر ته په طنزيه الـفـاظـو کښې ووئيل چې تاسو ته معلومه ده چې زمـونږ د صـوبې يـو حاکم چې ور ته چيف کمشنر وائـي دا سړے زمـونږ او ستـاسـو د خدمت لپـاره مـقـرر شـوے دے. د دۀ د ټـول کال مصروفيات او خدمات داسې دي چې کله د سپرلي موسم تير شي او ګـرمـۍ کښې تيـزي راشـي نو دا حاکم د هزارې غـرۀ نتهيا ګلي ته لاړ شي هلته څلور مياشتې په ګورنمنټ هاوس کښې له خپلې بيګم صاحبه سره تـاش کـوي او چې کـلـه پـه ګـرمـۍ کښې څه کمے راشي نو بيا بېرته پېښور ته راشي څو ورځې دلته د خـانـانو او نوابانو سره مېلمه وي او خپلې ډوډۍ او دعوتونه خوري او بيا د څه هفتو لپاره نظام پور تـه لاړ شي هلته د کبانو ښکار کوي. له هغه ځائې چې فارغ شي او په ښکار ستړے شي بيا سوات ته لاړ شـي هـلتـه د والـي سوات سره مېلمه وي او د مـرغـانـو ښـکار شروع کړي. څه شپې پس چې په مـوسـم کښې بيـا بـدلون شروع شي يخني او سړه هـوا راشـي نو يوه نه يوه بهانه جوړه کړي او دهلي ته کوچ وکړي.

دا چيف کمشنر په دې لوئې خدمت باندې د کـال اتـه لاکـه مـعـاوضـه اخلي او دلته د زمکو مـالـکـان پـه بندي خـانو کښې پراتـه دي چې د حکومت او حاکم له طرفه مقرر د کال ماليه ولې نۀ جـمـع کـوي. دلتــه د چـارسدې اسسټنټ کمشنر خـلـقـو تـه وئيـلـي دي چې عبدالغفارخان خلق د مـاليې لـه جمع کولو نه منع کړي دي که چا ماليه ادا نۀ کړه هـغه ټولو ته به سياسي سزا ورکېږي. د بـاچـاخان له دې تقرير نه د خلقو په زړونو کښې د انګـريـزي حکومت خلاف نفرت نور هم زيات شو او د آزادۍ پـه تـحريک کښې تيزي پيدا شوه. په دې جـلسـه کښې لـه پېښور نه علي ګل خان،لعل بـاچـا او د کانګرس نورو ممبرانو هم شرکت کړے ؤ. دوي لـه اتمانزو چې کله روانېدل نو باچاخان ته ئې ووئيـل چې په ۲۲اپـريل ۱۹۳۰ مـونږ د سول نـافرمانۍ اعلان کوو او شوره خاوري نه به مالګه جـوړوو مـونږ خـدائـي خـدمتګـار تحريک کښې شامل نۀ يو د هغه باوجود مونږ په دې جلسه کښې شـرکـت وکړو کۀ تـاسو د کانګرس حصه نه ئې هم زمـونږ دا خـواهـش دے چې تۀ راسره په دې کښې برخه واخلئ. باچاخان پېښور ته د تلو وعده وکړه.

## سانحه قصه خوانۍ بازار

۲۳اپريل کال ۱۹۳۰ باچاخان له چارسدې اتـمـانزو نه په پس کښې کېښناستو او پېښور په لـور را روان شـو پېښـور ته رانزدې نحقۍ تهانې

سره پولیسو هغه بس ودرولو کوم کښې چې باچاخان ناست ؤ پولیسو په دې وخت باچاخان گرفتار کړو او بېرته ئې چارسدې ته بوتلو. او بیا ئې له چارسدې نه مردان جیل ته بوتلو. د چارسدې اسسټنټ کمشنر هم مردان جیل ته ورغلے او د باچاخان او د هغه د ملگرو نه ئې دفعه ۴۰ سرحدي تحت ضمانتونه طلب کړل ټولو له ضمانتونو ورکولو نه انکار وکړو له هغې پس ئې ټولو ته د درې کالو سزا ورکړه او بیا ئې د پنجاب گجرات جیل ته بوتلل.

دلته پېښور کانگرس کمیټۍ د یوې غونډې د فېصلې مطابق علي گل خان په مشرۍ کښې (نمک سازي) قانون ماتول اعلان وکړو او سول نافرماني ئې شروع کړه. د پېښور د حالاتو د جائزې اخستلو لپاره د آل انډیا کانگریس یو وفد را روان شو. سرکار دا وفد د اټک په پل ودرولو په پښتونخوا کښې د راتلو اجازت ئې ور نۀ کړو. دا خبر چې پېښور ته راغلے د خلقو غصه نوره زیاته شوه او یو لوئې جلوس ئې را وویستلو. شاهي باغ کښې ئې یوه جلسه وکړه. د حکومت د عمل ئې غندنه وکړه. او دا فېصله ئې وکړه چې شراب خانې به بندوو.

دویمه ورځ سحر وختي نهه کارکنان گرفتار کړل شول چې سحر خلق په دې گرفتارۍ خبر شول او خلق د کمیټۍ دفتر ته راجمع شول نو ور ته معلومه شوه چې د دوه نورو کارکنانو وارنټ هم جاري شوے دے. شراب خانو بندیدو انتظامات مکمل وو په ښار کښې مکمل هړتال ؤ. نهه بجې سحر د خلقو دغه سمندر کارکنانو ته تلو باندې خراج تحسین ورکولو لپاره راټول شوي دي په دې کښې یو سب انسپکټر پولیس سره په لوئې تعداد په یو گاډي کښې راغلو او د کومو دوو کارکنانو ورنټ جاري شوے ؤ هغه ئې گرفتار کړل په گاډي کښې ئې سپاره کړل. په دې کښې د گاډي ټائر پنچر شو سب انسپکټر چې د بل گاډي انتظام کولو گرفتار کارکنانو سب انسپکټر ته ووئیل کۀ ستا اعتراض نۀ وي مونږ به پیدل تهانې ته لاړ شو. انسپکټر اجازت ورکړو د یو لوئې جلوس په صورت کښې دواړه کارکنان چې کابلۍ تانې ته ورغلل د تانې دروازې بندې وې دې حال کښې یو پولیس افسر په اس سپور راغلو دا جلوس چې ئې ولیدلو جلوس وربانډې نعرې شروع کړې. پولیس افسر په غصه کښې بېرته لاړو. د تانې دروازه چې خلاصه شوه کارکنان دواړه تانې ته ورغلل خلقو د انقلاب زنده آباد نعرې شروع کړې او چې کله منتشر شو په دې دوران کښې درې فوځي گاډي په تیز رفتار سره په خلقو ور اوختل او ډېر خلق ئې په وینو سرۀ کړل. له خلقو سره هیڅ قسم وسله هم نۀ وه خو د خلقو هجوم کښې ډېر زیات اشتعال او جذباتي ماحول خپور شوے

ؤ. خلقو چې کله مړي او ټپیان راټولول شروع کړل په دې کښې په یو موټرسائیکل باندې سپور یو انګریز فوجي د وحشي په شان راغلو نو عبدالرحمانماني نامه یو سړي پرې په تېز تبر وار وکړو د دې انګریز فوجي سر له بدنه جدا شو. یو بل سړي فوجي ګاډي ته اور واچولو په دې موقعه حاضر ډپټي کمشنر فوج ته د ګولۍ چلولو حکم ورکړو. د ګولو باران جوړ شو خلق ګوزارېدل خو اولس د چټان په شان کلکه سینه ولاړ وو څه ساعت پس بیا فائرنګ شروع شو دا ځل دا سلسله درې ګېنټې پورې روانه وه له دې وحشیانه کاروائۍ نۀ صرف قصه خوانۍ بازار کښې د وینو نهرونه روان شول بلکې شاوخوا کوڅې هم د آزادۍ د فدایانو په وینو سرې شوې د یو انداز مطابق له دې فائرنګ نه څلور سوه شهیدان او بې شمېره ټپیان شول.

د خلافت تحریک شېږ رضاکاران چې ټپیان پورته کولو په وخت باندې مصروفه وو هغه هم د انګریزي فوج د وحشیت ښکار شول. د شهیدانو څه مړي د خلافت تحریک دفتر ته راوړل شول او نور مړي حکومت په خپلو ګاډو کښې واچول او نامعلوم طرفته ئې یوړل چې د هغه شهیدانو تر آخره پته ونۀ لګېده. ګمان داسې کېږي چې یو دریاب ته ئې اچولي دي ډېرې شپې پښنور د مېدان کربلا په شان په وینو کښې لت پت پروت ؤ. د دې خوني شپې یوه اهمه خبره دا هم وه چې ګورکها فوج یوه دسته چې د ګهړوالي فوج په نام یاد دي دې ته چې د خلقو په دې هجوم باندې د ګولۍ چلولو حکم وشو نو د دې فوج دغسې دستې له ګولو چلولو نه انکار وکړو چې په دې بې ګناه انسانانو باندې ګولۍ چلول بزدلي ده. د فوج له دې دستې نه سرکار اسلحه ځینې واخسته او دوي ئې ټول بندیان کړل او بمبئ ته ئې واستول هلته یو فوجي عدالت دې فوجیانو ته له دوو کالو نه تر شلو کالو پورې د قید سزا اعلان وکړو. د قیصه خوانۍ پېښې په دریمه ورځ دلته خدائي خدمتګار او د کانګرس غړي یو ځل بیا راجمع شول په کومه زمکه چې د انګریزو وحشي فوج د وینو کوم سیلاب بیولے ؤ په ټول سړک د وینو تالاب ولاړ ؤ او په دغه موقعه دلته تختۍ او نشان ولګولو (یادګار شهیدا آزادي هند ۱۹۳۰) چې دا نشان او د قیصه خوانۍ د شهیدان ورځ اوس ۸۲ کاله پس هم په باقاعدګۍ سره لمانځل کېږي.

☆☆☆